لا إله إلا الله محمد رسول الله

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللَّهِ
[سورة فصلت: ۳۳]

# خبري ملګري

خبري ملګري

**لیکوال: استاذ همت الله (حقمل)**

**نېټه: ۱۴۴۶/۴/۱۳ هـ.ش**

بسم الله الرحمن الرحيم

# د کتاب په اړه

---

نوم: خبرې ملغلرې

لیکوال: استاذ همت الله حقمل(خادم المؤمنين)

کمپوز او ترتیب: خپله لیکوال

چاپ: نه دی چاپ شوی

اړیکه

ایمیل: hhaqmal600@gmail.com

واتساف: 93706004042+

پاملرنه: د دې کتاب نشر او له خپلو ملګرو سره شریکول، د ځان لپار ثواب وګڼئ؛ ځوک چې د دې کتاب په نشر کې همکاري کوي الله تعالی دې زما د لیکلو په اندازه په ثواب کې راسره شریکان کړي.

# ډالــــــــــــــۍ

هغه مهربانه خلکو ته دې ډالۍ وي

چې د خپلو مسلمانانو ورونو او خویندو

د هوسايۍ او خوشحالۍ لپاره

په خپل ځان باندې سختۍ تېروي.

# مقدمه

الحمدُ للهِ الذي جعَلَ الكَلِمَةَ الطَّيِّبَةَ شَجَرَةً طَيِّبَةً، أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ، تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا؛ والصَّلاةُ والسَّلامُ على سَيِّدِنا مُحَمَّدٍ، الذي أُوتِيَ جَوامِعَ الكَلِمِ، وعلى آلِهِ وصَحْبِهِ أَجْمَعِينَ.

الله تعالی په خپل مبارک کتاب کې فرمایلي دي: وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ [سورة فصلت: ٣٣]

ژباړه: او له هغه چا څخه به ښه خبره د بل چا وي چې د الله لوري ته بلنه ورکوي او ښه عمل کوي او وایي چې زه مسلمان یم.

نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: مَن كانَ يُؤْمِنُ باللَّهِ واليومِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أوْ لِيَصْمُتْ (رواه البخاري)

ژباړه: څوک چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري، نو ښه خبره دې کوي یا دې چوپ پاتې شي.

دا کتاب چې د (خبرې ملغلرې) تر عنوان لاندې ترتیب شوی، د ټولنیز ژوند په اړه د الفاظو  په اساس مختصرې خو له معنی څخه لويې ليکنې پکې راوړل شوې دي، دا کتاب زما د خپل فکر، علم او تجربې محصول دی؛ د دې لپاره مې ترتيب کړی ترڅو د خلکو د اخلاقو ښکلا زياته کړي، زړونو ته د الله تعالی په لور لاره پيدا کړي، د مسلمانانو ترمنځ د ورورۍ او دوستۍ تار قوي کړي او په ټولنه کښې د ښکلا رنګ خپور کړي، همدا رنګه مې په پای کې يو څه فکري ليکنې راوړې دي، چې کفار څنګه زمونږ په مقابل کې فکري جګړه کوي او مونږ يې څنګه دفاع وکړو؟ الله تعالی دې زما څخه دا کوچنی کتاب او هڅه قبوله کړي او الله تعالی دې يې د لوستونکو لپاره د ګټې او خير څخه ډک کړي.

په درنښت

همت الله حقمل (خادم المؤمنين)

ستاسو د دعا په هیله

# خبرې ملغلرې

- اخلاق دې ته وايي چې په خلاص تندي، ښو/نرمو الفاظو او د دين په چوکاټ کې له خلکو سره خبرې وشي.
- ارزښتناک خلک نورو ته ارزښت ورکوي، بې ارزښته خلک خپل ځان ته ارزښت ورکوي؛ خو هغه څوک چې نورو ته ارزښت ورکوي، په اصل کې خپل ځان ته ارزښت ورکول دي.
- اړينه نه ده چې له هر چا سره اړيکه ولرو؛ په کار دا ده چې په اړيکه کې سپېڅلي او دوه اړخيزه مثبت اهداف ولرو.
- اسلام او انسان يو له بل سره ډېر مهم تړاؤ لري، انسان به د اسلام په خاطر يا جنت او نعمتونو ته ځي او يا به د دوزخ له سرو اورونو سره يوځای کېږي.
- اصلي ژوند هغه دی چې د الله تعالی لپاره تېر شي، نه د خپلو خواهشاتو او حوس لپاره.
- اصيلو خلکو ته چې کله ارزښت ورکړې، فکر کوي چې محبت راسره لري او خامو کم اصلو خلکو ته چې کله ارزښت ورکړې فکر کوي چې اړتيا راته لري.

- انسان په هره لحظه او زمانه کې د الله تعالی تر څارنې لاندې دی، نو ځکه باید انسان د الله تعالی له اوامرو څخه سرغړونه ونه کړي.
- انسان چې د الله تعالی په لاره کښې وي باید له هېڅ شي څخه هم وېره ونه لري.
- انسان هم عجیبه دی! ځینې وخت داسې کارونو ته مخه کړي چې خپله هم وربانديې دردېږي او نور خلک هم دردوي، خو له خپلو پرېکړو څخه نه تېرېږي!
- انسان هم عجیبه دی! د نعمت قدر هغه وخت ورته معلوم شي، کله چې هغه نعمت ورڅخه پناه شي؛ چې بیا وروسته یې همدا نعمت د ارمان او افسوس سبب هم وګرځي.
- اوږد عمر ښه دی خو له نېکو اعمالو سره، نه له ګناهونو سره.
- بریالیتوب دا دی چې د دنیا په هر کار کې د آخرت فکر او اراده وشي.
- بهترینه سرمایه د نیک عمل ده چې آخرت او دنیا دواړه نیکمرغه کوي.

- په اسلامي نظام کې ثابت درېدل هم سخت او لوی کار دی؛ ثابت پاتې کېدل هم سخت او لوی کار دی.
- په جبر او قوت هېڅوک نشي فاتح کېدلای، د أبو جهل لوی او مجهز لښکر د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د کمزوري او لږ لښکر په مقابل کښې د ماتې او ذلت سر ښکته کړو.
- په دنیا کې انسان ډېر ارمانونه کوي، ځینې یې پوره شي او ځینې ورڅخه مرګے په نیمه لاره کې واخلي، خو کامیاب هغه څوک دي چې خپل ارمانونه یې جنت ته ورسوي.
- په دنیا کې ښه کارونه کوئ، ځکه چې جنت ته نیک کارونه د تللو لارې پرانیزي.
- په دنیا کې هره کړنه د انسان لپاره د آخرت برخلیک ټاکي؛ نو په همدې اساس د آخرت ژوند د دنیا د اعمالو پایله ده، خپل د دنیا اعمال سم کړئ، ترڅو په آخرت کښې مثبته نتیجه ترلاسه کړئ.
- په دې ځمکه کښې ډېر داسې خلک شته چې که ته هرڅومره ښه سړی شې او ښه ورسره وکړې، خو دوی بیا هم ستا سره دښمني کوي.

- په زړونو پاچاهي کول وړه خبره نه ده، د زړونو پاچاهي هغه ځوک کولای شي چې له خپل زړه څخه يې نفرت، حسد، قوميت، کبر، عجب او داسې نورې زهري ناروغۍ ايستلې وي او د هر چا لپاره په زړه کې د مينې ځای ولري.
- په سختيو کې صبر کوئ، ځکه چې د صبر په واسطه الله تعالی خپلو بندګانو ته بغير له حساب څخه ثوابونه ورکوي.
- په صبر او استقامت مـبارزه وکړئ، چې تصور او خيالات مو په حقيقت بدل شي.
- په کوم ځای کې چې الله تعالی درڅخه راضي کېږي، هلته د بندګانو هېڅ خاطر مه کوئ.
- په کومه ملګرتيا کې چې د معنوياتو په ځای مادياتو ته ترجيح ورکړل شوه، هغه ملګرتيا نه بلکې تجارت دی.
- په کومو پښو چې تر مسجد پورې نشې تللی، نو په دې پښو به له قبر څخه تر جنت پورې څنګه لاړ شې؟
- په کومو کارونو کښې چې په حق وې، له هېڅچا څخه وېره مه کوه، په مېړانه خپل کار کوه.
- په لمانځه کې استقامت، په تدريجي ډول انسان ته د دين په نورو کارونو کښې هم استقامت ورکوي؛ همدارنګه په

لمانځه کې کمزوري کول، په تدریجي ډول انسان ته د دین په نورو کارونو کښې هم کمزوري ورکوي.

- په هغه محبت هیڅکله دهوکه نشې چې د قدرت، دنیا او حسن په اساس ستا سره کېږي؛ ځکه دا یو هم بقا نه لري.
- پوه شه! کوم علم چې تا خپله اصلاح نه کړي، د نورو د اصلاح هیله دې بې ځایه ده.
- پوهه په هر حالت کې ښه ده، زیاتره وخت ښه کارونه او کړنې له پوهې څخه سرچینه اخلي.
- تاریخ مطالعه کړئ ترڅو د نظام د پرمختګ اسباب درته معلوم شي. تاریخ مطالعه کړئ ترڅو د نظام د خرابېدو اسباب درته معلوم شي.
- تاسې د یوې هفتې ټول کارونه د یو کاغذ په مخ ثبت کړئ او وروسته یې محاسبه کړئ، چې تاسې کوم کارونه د آخرت لپاره کړي او کوم کارونه د دنیا لپاره.
- تر څو چې د حق په لاره روان وې، تر هغې به دې خبرې او عمل دواړه دروندوالی لري، ځکه چې حق تر هرڅه دروند دی.

- تر نیمايي لارې پورې د هېڅ سره هم د سفر اراده مه کوه، که یو ځل دې غوښتل چې ملګرتیا وکړې، بیا له شخصي اهدافو تېر شه او اړیکه دې د دیدن په اصولو کې ونغاړه.
- تقوا دې ته وايي چې په هر عمل کښې د الله تعالی له ټاکلو قوانینو څخه پیروي وشي.
- تل له غریبانو خلکو سره ناسته ولاړه کوئ، ځکه له غریبانو سره ناسته ولاړه په انسان کښې عاجزي پیدا کوي.
- توپیري چلند یو له هغه لاملونو څخه دی چې د خلکو ترمنځ لوی اختلافات رامنځ ته کوي.
- جالبه دا ده چې بهتروالی او فضیلت د تقوا په اساس ثابتوو؛ خو احترام او قدر د قدرت، پیسو او چوکۍ په اساس کوو.
- جنت د مسلمانانو اصلي مسکن دی، هېڅکله مسلمانانو ته نه ده په کار چې په دې دنیا کې د خواهشاتو آرام، او هوسا ژوند اختیار کړي، ځکه چې جنت د مسلمانانو د دې دنیا د سختۍ تېرولو نتیجه ده چې الله تعالی یې په بدل کښې ورکوي؛ که چېرته مسلمانان په دې دنیا سختۍ او مشکلات

تېر نه کړي، نو جنت ته به څنګه ځان ورسوي؟ د الله تعالی له امتحان څخه به څنګه ځان تېروي؟

- چې کله د یو عمل اراده وکړې اول فکر وکړه چې الله تعالی په دې کار راضي کېږي او که نه؛ که چېرې الله تعالی وربانديې راضي کېږي بیا نو په ترسره کولو کښې یې د هېچا خاطر مه کوه.
- حاسد هیڅ کله خپل مرام او هدف نشي ترلاسه کولای، آخر هم د خپل حسد په اور کې لولپه شي.
- حسد د کمزور خلکو هغه نیمګړی خاصیت دی، چې هیڅ کله د نورو خلکو نعمتونه ورته د زغملو وړ نه وي او همېشه یې د زوال هیله کوي.
- حق ویل په رښتیا سره هم انسان د عزت په لور وړي؛ د حق ویلو څخه وروسته، که له هر څه سره مخ شې عزت یې وګڼه.
- حق ویل له خلکو څخه رجال بېلوي او د حق لارویانو ته الله تعالی عزت ورکوي، خو سختۍ ورسره دي.
- حقوقي او مقصودي اړیکې جوړول زده کړئ؛ زیاتره اړیکې اوس تاواني او غیر اړینې دي.

- ځوک باید په خپل قدرت غرور او کبر ونه کړي، د فرعون لویه پاچاهي د یو سمندر په واسطه په یوه لحظه کې له منځه لاړه.
- ځوک چې پرته له دلیله د نورو خلکو د ځورولو کوښښ کوي، خپله به یې هم هېڅکله ژوند له خوشحالیو ځخه ډک نشي.
- ځوک چې په لمړیو وختونو کښې له ډېرو سختیو سره مخ شوي وي، په وروستیو وختونو کښې به د ډېرو سختیو لپاره استقامت ولري.
- ځوک چې د نورو خلکو شخصیت داغداره کوي له دې ځخه معلومیږي چې خپل شخصیت یې وختي لیلام کړی.
- ځوک چې علم لري خو بیا هم د اسلامي ټولنې د اصولو سره برابر ژوند نه کوي دا زیاتره وخت له کبر ځخه سرچینه اخلي.
- ځوک چې له چا ځخه  قدر غواړي، لمړی دې خپله نورو ته قدر ورکړي؛ ولې هرځوک هغه چا ته قدر ورکوي چې د دوی قدر ورسره وي.
- ځوک که غواړي چې د آخرت ژوند ښایسته کړي، هغه باید په دنیا کې نیک اعمال ترسره کړي.

- ځومره چې د ځان د عزت خیال درسره وي همدومره د بل چا د عزت هم خیال کوئ، ځکه چې په دنیا کې داسې څوک نشته چې عزت نه خوښوي.
- حی علی الفلاح! زمونږ لوی مشکل دا دی چې په عربي هم نه پوهېږو، په آذان کې پنځه وخته راته وايي چې راشئ ځای د خلاصون ته؛ هغه ځای ته چې تاسې د دنیا او آخرت له ستونزو او مشکلاتو څخه خلاصوي؛ نو ځکه خو لبیک هم نه ورته وايو.
- ځینې خلک الله تعالی د خپل کبر له وجې خوار او ذلیل کړي، ځینې یې د خپلې عاجزۍ له وجې شتمن او پورته کړي؛ په دې کښې د الله تعالی خپل حکمتونه وي.
- ځینې خلک تر دومره اندازې منفي فکر لري چې د یوې خبرې یا یو شي ټولې ښېګڼې به ورته معلومېږي، خو بیا به هم په کمزورو نقطو پسې سترګې اړوي.
- ځینې خلک ښه اخلاق لري، خو ځینې خلک صرف د ښو اخلاقو تمثیل کوي، چې له لنډ وخت څخه وروسته یې هغه مکرجنه څېره خپله ظاهرېږي، نو ځکه په خلکو د اول ځل لیدلو سره د ښوالي پرېکړه مه کوئ.

- ځينې کارونه بد نه وي، خو د يو چا په ضد که ترسره شي، خامخا يې غبرګون ته هڅوي.
- ځينې کارونه صحيح وي، خو د شخص نيت او هدف ورڅخه غلط وي، نو ځکه هغه کارونه د خلکو د منفي غبرګون سبب وګرځي.
- ځينې وخت په يوه برخه کې دردېدل په نورو برخو کې زياتې لاسته راوړنې له ځانه سره لري؛ د دنياوي مصيبتونو پايله هم خير وګڼئ.
- ځينې وخت حالات انسان دې ته اړ کوي چې د ډېرو نيږدې کسانو د هېرولو فيصله په سړي وکړي، خو تاسې هېڅکله دا فيصله مه کوئ؛ ځکه چې سخت حالات زياتره وخت په انسان منفي فيصلې کوي.
- ځينې وخت ډېر واړه اقدامات د لويو تحولاتو سبب وګرځي، نو خپل اقدامات د لوی فکر او مشورې له لارې ترسره کړئ.
- ځينې يوازې په حقوق الله باندې ځان ته د عابد او ښه سړي نسبت کوي؛ د انسانانو سره صحيح معامله او ښه اخلاق په ذهن کې لا نه ورګرځي!

- خبرې د ګل په شان نرمې کړئ؛ چې نه چاته درد ورکړي او هم خوشبويي وکړي.
- خپل فکر د الله تعالی په قدرتونو کې مصروف کړه، وګوره چې الله تعالی څومره قدرت لري، ترڅو په دې لړ قدرت غرور درڅخه ونه شي.
- خپل قلم مه غورځوئ، د دين په خدمت کښې يې استعمال کړئ، که هېڅ په فکر کښې نه درتلل د خدمت په نيت يوازې کرښې ورباندې وکاږئ، الله تعالی به مو اجرونه نصيب کړي او د ليکوالی توفيق به درکړي.
- خپل کارونه د حق په ترازو برابر کړه، د خلکو په قضاوتونو پسې مه ګرځه؛ ځکه چې حق نه بدلېږي، خو خلک ټول يو له بل سره توپير لري او هر وخت بدلېږي.
- خپل وخت قيمتي کړئ او د داسې خلکو سره تعلق ونيسئ چې ستاسو وخت نور ورسره قيمتي شي.
- خپله پوهه او استعداد دې د اسلام او نظام د پرمختګ لپاره استعمال کړه، ځکه د دې دواړو په اړه د الله جل جلاله په دربار کې مسئول يې.

- خپلې خبرې له دروغ ویلو څخه محفوظې کړئ، دروغ وېل د انسان شخصیت داغداره کوي.
- خپلې سهوې د یو پوه او هوښیار لارښوډ په ذریعه په نښه کړئ او د راتلونکي لپاره ځان ورڅخه وساتئ.
- خپلې مثبتې ارادې تر هغه وخته مه څرګندوئ، ترڅو مو چې په عمل کښې نه وي ثابتې کړې.
- د اړیکې دوام له صداقت پرته هېڅ امکان نه لري، صداقت دی چې اړیکې ته دوام، اعتماد او خوند وربښي.
- د اړیکې لپاره تعادل ډېر مهم دی، که چېرې د ترازو یوه پله ښکته وي ډېر وخت دوام یې امکان نه لري.
- د اشخاصو تر منځ باور هغه مهم شی دی، چې له ماتېدو څخه ورسته یې رغونه ډېره ستونزمنه وي او د اړیکې په خرابېدو کې په پوره اندازه ونډه لري.
- د الله تعالی لپاره له خلکو سره نیکي وکړئ، په خلکو د هغه نېکیو احسان مه کوئ چې تاسې ورسره کړې دي، ځکه چې ثواب یې الله تعالی درکوي نو له ده څخه یې بدله مه اخلئ.
- د انسان د مرګ او اخروي ژوند لپاره د ده خپل اعمال دي چې د ښه او بد یعنې جنت او دوزخ په اړه یې برخلیک ټاکي.

- د انسان لپاره په ژوند کې لوی دښمن د انسان خپله ناپوهي ده.
- د ایمان غوښتنه دا ده چې د الله تعالی بندګی ته په سختۍ او آسانۍ کې غاړه کېږدي.
- د بریالیتوب لپاره کوښښ، استقامت، غیرت او صبر اساسي موارد دي چې په مټ یې د کامیابۍ تر پوړو رسېدلای شو.
- د جانبینو تر منځ د خبرو تحمل د اړیکې په کیفیت او ماهیت پورې اړه لري؛ چې له هر چا سره په یو معیار نه وي.
- د جنت خاوندان په دنیا کې صرف د حق پلویان دي، د حق پلوي کول به انسان تر جنت پورې رسوي.
- د جني شیطان پر نسبت د انسي شیطان فتنه سخته ځکه وي چې هغه د انسان په جامه کې د یو ملګري په ډول هم راتلای شي؛ جني شیطان خو یوازې انسان ته وسوسه وراچوي، لیکن انسي شیطان عملي ټالۍ ورسره وهي.
- د چا چې اړیکه له الله تعالی سره وي، هېڅ کله به یې څوک نه دهوکه کړي او نه به یې څوک عزت کم کړي.
- د چا چې کمزورو خلکو ته لهجه سخته او زورورو خلکو ته یې لهجه نرمه وي؛ دا د دې شخص په بېغرتۍ دلالت کوي.

- د ځینو خلکو صبر او زغم هیڅکله په کمزورتیا او بېغیرتیا مه تعبیروئ؛ ځکه لوی او غیرتي خلک همېشه له صبر او زغم څخه کار اخلي.
- د خاصو او عامو ملګرو لیست مو باید جامد او ثابت نه وي، هر وخت باید تغیر منونکی وي، ځکه چې خلک ټول وخت په یو حال نه وي، له حالاتو سره تغیر کوي.
- د خبرو څخه مخکې د خبرو په خیر او شر فکر وکړه، هېڅ کله داسې خبرې مه کوه چې د شر خواته لاره هواروي.
- د خپلې چوکۍ، منصب او خواهشاتو په خاطر له حق څخه تنازل مه کوئ؛ کله چې په همدې خاطر خلک له حق څخه مخ واړوي، نظام به د بربادۍ په سیند لاهو شي.
- د خپلې ناپوهۍ د پټولو لپاره د نورو خلکو پوهه تر سؤال لاندې مه راولئ، بلکې د حل لاره يې دا ده چې خپله ناپوهي ختمه کړئ.
- د خلکو په خبرو پسې مه ګرځه، چې الله تعالی عزت درکړی وي، د ټولې دنیا خلک دې هم نشي بې‌عزته کولای.

- د خلکو تر منځ د خیر او نېکمرغۍ خبرې کوه، له داسې خبرو څخه ځان وساته چې د خلکو تر منځ نفرتونه او دښمنۍ پیدا کوي.
- د خلکو د احترام او عزت ذریعه مال، ښایست، او چوکۍ مه ګڼئ؛ اصل د احترام او عزت ذریعه تقوا، دین‌داري، مقدم‌والی، علم او عمل دي، چې باید په دې اساس خلکو ته قدر ورکړل شي.
- د خلکو دعاګانې چې نه قبلېږي، روزۍ له حلالو لارو څخه نه دي ترلاسه شوې.
- د خلکو له حسد څخه مه مایوسه کېږئ، همدا د خلکو حسد دی، چې د لویو اهدافو ترلاسه کولو ته مو هڅوي.
- د دعوت لپاره له حکمت څخه کار واخلئ، ترڅو خلک اصلاح هم کړئ او ملګري مو هم شي.
- د دنیا په ژوند کې د ځان لپاره عاجزي اختیار کړئ، ځکه چې عاجزي مو لوړوي او پورته کوي.
- د دنیا خواهشات نه پوره کېږي، کوم خواهشات چې ترلاسه کړې نفس دې وروسته تر هغې زیات نوره تقاضا کوي.

- د دنیا ژوند د خوښیو او غمونو ټولګه ده، چې د انسان تعادل یې برابر کړی؛ په یوازې خوشحالۍ او یا یوازې غمونو سره شخص له عادي حالت څخه خارجیږي چې د انسان ژوند به یو ډول منفي بڼه خپله کړي.
- د دنیا ژوند دومره لنډ دی چې یوازې د آخرت لپاره باید کار پکښې وشي، ځکه چې د دنیا ژوند که جوړوې، ژوند به دې پای ته رسېدلی وي.
- د دنیا قېمت ډېر کم دی، هغه وخت یې درک کولای شو چې مونږ د آخرت قېمت په صحیح معنی وپېژنو.
- د دنیا لپاره دومره کوښښ وکړه چې څومره عمر پکښې تېروې او د آخرت لپاره هم دومره کوښښ وکړه چې څومره یې عمر وي.
- د دنیا له ژوند څخه د آخرت په هیله خوند واخله؛ د دنیا په هیله خوند مه ورڅخه اخله، چې د آخرت ژوند به دې له ستونزو سره مخ شي.
- د دنیا له ژوند څخه مه ستړي کېږئ، بلکې د دنیا له خواهشاتو څخه ستړي شئ، ترڅو مو الله تعالی خپلې خوا ته نیږدې کړي او د خوشحالۍ ژوند درنصیب کړي.

- د دنیا نعمتونه درڅخه د آخرت نعمتونه هېر نه کړي؛ د دنیا نعمتونه ظاهري دي او د آخرت نعمتونه پټ دي، هېڅ کله هغه ابدي نعمتونه د دې څو ورځو بې بقا نعمتونو په مقابل له لاسه ورنکړئ.
- د دنیا هر ډول تکلیف په ځان تېروم، خو د آخرت یوه لحظه عذاب هم راته د زغملو وړ نه دی، نو ځکه مې په دنیا کښې د قربانۍ او سختۍ لاره اختیار کړې ده.
- د دې کوښښ مه کوئ چې د خلکو عیبونه پیدا او نورو خلکو ته وښایاست، ځکه چې تاسې خپله هم له عیبونو څخه خالي نه یاست، که مو د نورو خلکو عیبونه ظاهر کړل، نو ستاسې عیبونه به الله تعالی نورو خلکو ته ظاهر کړي.
- د دې کوښښ مه کوئ چې ستاسو نیک اعمال خلک تائید کړي، ځکه چې خلک ستاسو د اعمالو حقیقي بدله نشي درکولای؛ بلکې اعمال د الله تعالی په دربار کښې تائید کړئ، چې حقیقي بدله یې ترلاسه کړئ.
- د دین د عملي تطبیق لپاره نظام جوړونه کېږي، چې د سیاست له ژورې مطالعې څخه ورسته هم همدا مطلب راوځي؛ ځکه خو اسلامي نظام هېڅ وخت د شریعت د اصولو څخه خلاف کوم اصل نه قبلوي.

- د ډېر صبر څخه وروسته اقدام کول ځينې وخت ډېر خطرناک تماميږي او تصميم نيونه يې هم په هغه اندازه وي څومره يې چې صبر کړی وي.
- د روژې په مبارکه مياشت کې په خپله ورکړه کې زياتوالی راولئ، د ټولنې وږي خلک ماړه کړئ، د تهجد او پيشلمي په وخت کې د ټولنې د مسکينانو دعاګانې له لاسه مه ورکوئ.
- د زړه ناروغي دا ده چې نور خلک نعمتونه لري، خو تا ته خوند نه درکوي.
- د زړه نه که څوک درته ګران وي، خپل ګرانښت ورته اظهار کړئ، ترڅو مو ترمنځ د محبت تار نور هم محکموالی پيدا کړي.
- د ژوند پای خامخا مرګ وي، خو مخکې له دې چې مړ شې، د ابدي ژوند لپاره يو څه تيار کړه، ترڅو له داسې مشکلاتو سره مخ نشې چې بيا پای نه لري.
- د ژوند دوام خامخا له لوړو او ژورو څخه ډک وي، خو ته له سختيو او آسانيو دواړو څخه د راروان ژوند لپاره درس او عبرت واخله، که چا ښه درسره کړي وي، احسان يې مه هېروه، ورڅخه منندوی شه او که چا بد درسره کړي وي عفوه

ورته وکړه؛ ترڅو په راتلونکي کې روښانه اؤ سپېڅلی شخصيت درڅخه جوړ شي.

- د ژوند لپاره ژوند وکړئ، ځکه چې ژوند د ژوند لپاره کېږي او ژوند تر ژوند ډېر ارزښت لري.
- د سپڅلي هدف لپار بايد هر ډول سختي په ځان تېره شي، خو د هدف په ترلاسه کولو کې بايد کمزوري ونه شي.
- د شهرت لپاره هڅه مه کوه، بلکې د قبوليت لپاره هڅه وکړه، تر څو چې ستړياوې، خدمتونه او اعمال دې ضايع نشي.
- د علم په ترلاسه کولو کې بايد لمړی هدف د خپل ځان اصلاح او صحيح لاره ټاکل وي؛ وروسته د نورو خلکو لپاره خدمت.
- د علم په واسطه لمړی ځان اصلاح کړه، وروسته په حکمت سره د نورو خلکو پوهول وکړه.
- د قانون په وړاندې هېڅ قوي قوي نه دی او هېڅ کمزوری کمزوری نه دی؛ ځکه چې د قانون اصول د ټولو خلکو لپاره په يوه اندازه جوړ شوي دي.
- د قيامت له علامو څخه يوه دا هم ده، چې دندې به داسې کسانو ته وسپارل شي چې هېڅ اهل به يې نه وي.

- د کارونو د تائید لپاره یوازې الله تعالی کفایت کوي، د خلکو په تائید او مخالفت پسې مه ګرځئ، ځکه چې زیاتره خلک د خپل نفس په غوښتنه فیصله کوي.
- د کم‌اصلو خلکو دا عادت وي، چې تر خپل هدف پورې محبت او دوستي کوي، کله چې خپلو اهدافو ته ورسیږي، بیا یې په بڼه کې تغیر راځي او خپله اخلاقي بڼه بدلوي.
- د کومې موضوع په اړه چې تاسې تصور کوئ، د ادبیاتو په اصولو یې منظمه ولیکئ؛ همدې ته لیکوالي وایي.
- د مار او لړم زهر دومره نه دي سخت، لکه څومره چې د بدو خبرو زهر سخت دي.
- د محشر په ورځ به ډېر خلک د انسانانو په خاطر جنت ته ځي او ډېر خلک به د انسانانو په خاطر جهنم ته ځي؛ د انسانانو تر منځ معاملات به په آخرت کې محاسبه کېږي.
- د مرستې لپاره یوازې الله جل جلاله کافي دی؛ خو د راتلونکي تعامل لپاره له هر چا څخه ازموینه واخلئ.
- د ملګرتیا او خپلوۍ لپاره هیڅکله باید شرعي او اداري اصول تغیر او بدل نشي.

- د مور او پلار محبت نه درک کېږي، اولاد هغه وخت ارمان کوي چې خپله د اولاد څښتن شي، خو مور او پلار يې په تورو خاورو کې وي.
- د نظام په جوړونه کې د تاريخ ارزښت د ويالې په حيث دى، چې اوبه هدف ته د رسېدو په لور هدايت کوي.
- د نظام په کومه برخه کې چې ټاکنه د اهليت په اساس نه وي؛ هغه برخه به خامخا د خپل هدف په ترلاسه کولو کې پاتې راځي.
- د نورو ټول نظرونه پرته له دې چې فکر ورباندې وشي تائيدول د ناپوهۍ نښه ده.
- د نورو خلکو عزت ته هم د خپل عزت له هنداره وګوره؛ کېداى شي ځينې خلک د الله جل جلاله په وړاندې تر تا ډېر عزت ولري.
- د هدف لاسته راوړلو لپاره تر ټولو مهم شى د وګړو اتحاد او يو والى دى، که وګړي د هدف په ترلاسه کولو کې يو لاس وي هدف به په اسانۍ او بې تکليفه ترلاسه شي.
- د هغه خلکو څخه زمونږ کور ودانى دى چې زمونږ عيبونه په پټه توګه راته ډالۍ کوي او له هغه چا څخه مونږ پناه غواړو

چې زمونږ عیبونه زمونږ څخه په پټه توګه نورو خلکو ته بیانوي.

- د هوښیار لپاره صرف کنایه او اشاره کفایت کوي؛ ځکه چې د هغه درک، فهم او دوه اړخیزه تعامل پیاوړي وي.
- دا حل لاره نه ده چې له نورو خلکو سره حسد وکړئ، بلکې کوښښ وکړئ چې خپله تر نورو خلکو مخکې شئ او تر نورو خلکو ډېر څه ولرئ.
- دا د الله تعالی محبت دی چې په نیمه شپه دې راویښ کړي او خپل دربار ته دې ودروي.
- دا مهمه نه ده چې ته په کومه سایه کې ولاړ یې، بلکې مهمه دا ده چې ستا خپله اندازه او ظرفیت څومره دی.
- دا مهمه نه ده چې خلک دې ستاینه وکړي، که چېرې د خلکو د ستایلو هیله لرې، نو پوه شه چې ته یو کمزوری شخص یې.
- دا مهمه نه ده چې زمونږ سره باید د هر چا جوړه وي او باید هر څوک محبت راسره ولري، مونږ باید خپله اړیکه له الله جل جلاله سره جوړه کړو، د ښو خلکو به خپله راسره جوړ شي او محبت به راسره کوي.

- داسې چلند له نورو سره کوه، چې په هغه اندازه یې خپله هم زغملی شې؛ ځکه چې ته هم تر ټولو خلکو لوړ نه یې.
- داسې څه زده کړه چې کم خلک پرې پوهیږي، خو په داسې طریقه یې بیان کړه چې ډیر خلگ پرې پوه شي.
- داسې ژوند وکړه چې له مرګ څخه وروسته دې خلک په افتخار سره نوم واخلي او په نېکۍ سره دې یادوي.
- داسې فکر مه کوئ چې هر څوک ستاسو په اوړو د ځان باړولو کوښښ کوي، هر څوک أول کوښښ کوي چې په خپلو پښو بلۍ ته وخېژي.
- درانه خلک هیڅکله د چا نېکي نه هېروي؛ او د خلکو په بدیو باندې بخښنه کوي.
- دنده ترسره کول مسئولیت دی، که یې یو څوک اهل نه وي ټاکل یې ظلم دی، که څه هم ښه شخص وي، ځکه چې هغه د نورو خلکو حقوق نشي ورکولای.
- دنیا او دولت که وفا او فایده کولای قارون به یې له ځمکې څخه را ایستلی وو، چې د خزانو چابیانې(کیلۍ) یې اوښ نشوای وړلی.

- دنیا او دولت هغه څه دي چې د فکري یرغل لپاره په مؤثره طریقه ورڅخه استفاده کیږي او زیاتره مسلمانان یې تر تاثیر لاندې راځي.
- دینداري انسانان لوړوي، صحابه کرام دین ته زیات وفاداره وو او دینداري یې په اعلی مرتبه کښېښ وه، ځکه یې د الله تعالی په دربار کښې لوړ مقامات په نصیب شول؛ الله تعالی له دوی څخه راضي شو او دوی له الله تعالی راضي شول.
- ډېر اعمال کوه او په لږو شتو قناعت کوه، دنیا دار العمل ده، مونږ باید نیک اعمال پکښې ترسره کړو او د جزا ورځې ته یو څه ورڅخه یوسو.
- ډېر څه له لاسه ورکړئ خو هغه ثوک له لاسه مه ورکوئ چې همېشه د خیر خواته لار ښوونه درته کوي.
- زموږ او د صحابه کرامو رضی الله عنهم ترمنځ توپیر په دې کې دی چې: هغوی به ژوند د آخرت په اساس کولو او مونږ ژوند د دنیا په اساس کوو؛ یعنې د دوی هدف آخرت وو او زمونږ هدف نابوده دنیا ده؛ الا ماشاءالله.

- زمونږ په عبادت کښې چې خوند نشته، زړونه مو له دنیا سره تړلي دي.
- زمونږ د ژوند هغه وختونه ډېر ارزښت لري چې د دین په خدمت کې تېر شوي وي.
- زمونږ زړونه تل له ناروغیو څخه ډک وي؛ ځکه خو د الله تعالی له ذِکر سره نه عادت کېږي.
- زمونږ زیاتره کارونه د استقامت په سبب نیمګړي پاتې شي، که چېرې مونږ هر کار ته پوره استقامت ولرو، نو لرې نه ده چې هر کار به مو د کامیابۍ په درشل ولاړ وي.
- زمونږ ژوند هغه وخت ارزښت پیدا کوي چې مونږ یې قدر وپېژنو، زمونږ ژوند چې بې ارزښته دی، قدر یې نه دی راته معلوم.
- زمونږ ښکلا باید په اعمالو سره وي، صرف ظاهري ښکلا شخصیت نشي تکمیلولای.
- زمونږ لپاره په عبادت کې اصل شی اخلاص (هر څه د الله تعالی لپاره ترسره کول) دي.
- زمونږ هغه وختونه تاواني دي چې په ګناه کولو یا عبث راباندې تېر شوي وي.

- زيات خلک د دريو ظاهري شيانو په اساس محبت کوي: مال، چوکۍ او حسن؛ نو ځکه د هر چا محبت ريښتينی مه ګڼئ، بلکې تجربه يې کړئ؛ چې ريښتينی دی او که مقصد لري.
- ستا د ژوند هره لحظه، ستا د آخرت لپاره د برخليک ټاکونکې ده، کوښښ وکړه يوه لحظه هم ضايع نه کړې.
- ستا لپاره دا خير دی چې د دنيا له اسبابو څخه د آخرت لپاره کار واخلې؛ د دنيا اساب د آخرت په ګټه وکاروه.
- ستا لپاره مناسب نه وي چې خپل نظريات په خلکو ومنې، بلکې ستا مسئوليت دا دی چې هرچا ته د اخلاص مشوره ورکړې، وروسته عمل د هر چا خپل کار دی.
- ستا نېک اخلاق دا دی چې له خلکو سره په شرعي طريقه خبرې او عمل وکړې.
- ستونزې هېڅ کله په دهوکه، دروغو او چل نه حل کېږي، که چېرې حل هم شي، د الله تعالی په وړاندې همداسې ناحل پاتې وي، ځکه چې په خپل اصلي صورت نه دي حل شوې.
- ښه څوک هغه دي چې مسلمانان ورڅخه خوشحاله او کفار ورڅخه خفه وي.

- ښه لارښؤد هغه چا ته وايي چې خپل افعال، اقوال، نظريات او پوهه لمړی په خپل ځان تطبيق او عملي کړي، ورپسې يې تر خپل شاګرد پورې په ښه طريقه ورسوي او بيا يې پر هغه د حکمت پر اساس تطبيق کړي.
- صحابه کرام د اسبابو او شمېر په حساب ډېر کمزوري وو، خو د ايمان په حساب يې د ټولې نړۍ سره ډغرې وهلې او د نړۍ لويې لويې امپراتورۍ يې رانسکورې کړې؛ رضی الله عنهم ورضوا عنه.
- صله رحمي د دين له هغه مهمو برخو څخه ده چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به د اسلام راوړلو په وخت کې له خلکو څخه بيعت ورباندې اخيستو.
- علم ترلاسه کړئ ځکه چې ډېر فضيلت لري، خو وروسته بيا عمل ورباندې کول خپله وجيبه وګڼئ؛ ځکه چې علم پرته له عمله انسان د هلاکت لوري ته وړي.
- غريبي د ژوند امتحان دی، چې دوه اشخاص ورباندې امتحان کېږي، يو خپله غريب دوهم مالداره دوست او ملګری.
- فتنه په آخر کښې خلک ګمراه کوي په أول وخت کښې هر څوک ورباندې پوهېږي.

- فضیلت قوم، وطن او ژبه نه درکوي، فضیلت د اعمالو په واسطه الله جل جلاله درکوي نېک؛ اعمال کوه تر څو فضیلت ترلاسه کړې.
- فطرت نه بدلېږي، شخص که له حالاتو سره هرڅومره بدل شي، خو فطرت زېږولي خاصیتونه یې بیا هم یوه ورځ د حالاتو په تغیر سره ښکاره کېږي.
- کارونه هغه وخت په ښه ډول تر سره کېږي چې په امرونو کې له وکړئ او وکړه څخه ډډه وشي او په متکلم مع الغیره باندې د کارنونو لارښوونه وشي.
- کله چې خلک جهاد پرېږدي او د دنیا په کارونو کښې بوخت شي، همدا هلاکت دی.
- کله چې د مشرانو په مجلس کښې ناست وې، کوښښ وکړه خپلې خبرې ډېرې کمې او د پوښتنې په شکل کوه.
- کله چې درسره څوک ښه وکړي په بدل کې یې خامخا ورسره ښه وکړه، همدا د انسانیت او اخلاقو تقاضا ده.
- کله دې چې هدف ترلاسه کړو، د هغه خلکو شُکر ادا کړه چې په ترلاسه کولو کې یې مرسته درسره کړې ده.

- کله مو چې له ملګرو سره په اړیکه کې د یوې خبرې وار وار تکرار ته اړتیا ولیده، پوه شئ چې د اړیکې ماهیت مو تغیر ته اړتیا لري، نو د خپلې اړیکې د بدلون هڅه وکړئ.
- کم اصل خلک د نورو خلکو په واسطه هدف ته ځان رسوي، د هدف ترلاسه کولو څخه وروسته، هغه ټول خلک هېروي چې مرسته یې ورسره کړې وي.
- که الله تعالی ته نیږدې شوې، لرې نه ده چې الله تعالی به هم د ځمکې په خلکو کښې عزت او شرف درکړي.
- که پوه شوې چې حق نشم ویلای، نو په دې هم پوه شه چې د الله تعالی په وړاندې دې ارزښت له لاسه ورکړی دی.
- که چېرې د جهنم له وېرې څخه په دنیا کې د ګناهونو څخه ځانونه وساتو، الله تعالی به مو له جهنم څخه وساتي او جنت به راته نصیب کړي.
- که چېرې دې یو څوک په غیاب کې صفت کوي او په مخ دې اصلاح کوي، پوه شه چې دا دې هغه دوست دی چې ستا خیر غواړي.

- که چېرې مونږ په دین او بندګۍ کې دومره کوښښ کولای، لکه څومره چې په دنیا کې کوښښ کوو، نو ټول به د ولایت درجې ته رسېدلي وای.
- که چېرې مونږ په کنایو او اشارو کې خپل موضوعات مطرح کړو د دوه اړخیزو اړیکو زیات رازونه به خوندي وي او له خفګان څخه به مخنیوی شوی وي.
- که چېرې مونږ د خپل نفس او شیطان سره دښمني پیل کړو، لرې نه ده چې د الله تعالی قرب او محبت به ترلاسه کړو.
- که چېرې هر څومره ښېګڼې ولرې څوک دې ستاینه نه کوي؛ خو که یوه نیمګړتیا ولرې هر څوک د غندې ګوته درته نیسي؛ نو ځکه ته باید پوه شې چې د نړۍ د خلکو لیدلوری همداسې منفي دی؛ نو خپل کار کوه او په هغه سل ښېګڼو ډاډه اوسه، ځکه چې له نیمګړتیاؤ څخه دوی هم نه دي خلاص.
- که چیرې مونږ خلک په خپلو پرمختګونو او ابتکاراتو کې تشویق کړو، زمونږ ټولنه به د پرمختګ په لور چټک ګامونه پورته کړي.
- که څوک ډېر لږ ابتکار وکړي تاسې یې تشویق کړئ، ترڅو په دوهم ځل پرمختګ پکښې وکړي.

- که غواړې په خپل موقف پاتې شې د راتلونکي اعتماد او باور لپاره د ژوند هره کړنه د خلکو امتحان وګڼه.
- که غواړې چې پرمختګ وکړې، د نورو خلکو له نعمتونو څخه د حسد سترګې راټولې کړه او په مېړانه د پرمختګ لپاره د خپل هدف په لور کوښښ پیل کړه.
- که غواړې چې د خلکو هره ښېګڼه درته نعمت شي، نو له هېچا څخه هم د ښېګڼو توقع مه کوه.
- که غواړې چې نېږدې ملګري دې ونه ځوروي، نو هېڅ کله هم ځان داسې مه ورته معرفي کوه چې ستا سره ډېره مينه لرم.
- که غواړې چې هوښيار شې، لمړی په خپلو ملګرو او د مجلس په ملګرو کښې فکر وکړه او هوښيار خلک خپل ملګري جوړ کړه.
- که غواړئ چې په ټولنه کې د عزت څښتنان شئ، نو د الله تعالی بندګی ته پوره غاړه کېږدئ او د خلکو سره نېک اخلاق وکړئ.
- که غواړئ چې په دنيا کې روښانه ژوند وکړئ، د علم او پوهې څراغ درسره واخلئ، تر څو مو د ژوند لارې روښانه کړي.

- که غواړئ چې ټول عمر مو قېمتي شي، ژبه مو په ذِکر اموخته کړئ.
- که غواړئ چې زيات خلک مو خوښ کړي او ملګرتيا درسره وکړي، نو د نورو خلکو له طبيعت سره ځانونه جوړ کړئ، خو تر ټاکلو ديني او ټولنيزو اصولو هېڅکله مه ور اوړئ؛ هغه خلک هيڅکله خپل ملګري نشي زياتولای چې نور خلک په خپل طبيعت برابرول غواړي، ځکه چې د ټولو خلکو يو شان طبيعت نه وي.
- که غواړئ چې يو ځوک د پرمختګ په لور وهڅوئ، خپل تشويق هېڅکله مه ورڅخه سپموئ.
- که غواړئ، چې ارتقا وکړئ، په داسې محيط کښې ژوند وکړئ، چې خلک يې تر تاسې ډېره پوهه ولري.
- که له خلکو څخه عزت غواړې؛ نو ته هم په خپل ځان د نورو خلکو عزت لازم کړه.
- که مثبت يا منفي تغير دې په ځان کښې محسوس کړو، نو د خپل مجلس ملګري وګوره، خامخا به درته معلومه شي چې ستا په کړنو او تغير کښې ملګري مستقيمه اغېزه لري.

- که مو خپل الفاظ له زهرو څخه پاک کړل، هرڅوک به مو خبرو اورېدلو ته لېواله وي.
- که دې خلکو عزت کولو د ځان کمال اؤ ابتکار یې مه ګڼه، بلکې د الله تعالی شکر وباسه، چې په خلکو کې یې د عزت څښتن ګرځولی یې.
- که مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په طریقه او لاره په مکمل ډؤل روان شو، دنیا او آخرت به مو دواړه نېکمرغه شي.
- که یو چا ته الله تعالی نعمتونه ورکړي وي، حسد مه ورسره کوه، ځکه چې ستا حسد د هغه په نعمتونه کې هېڅ کموالی نشي راوستلای.
- که یو څوک بد درسره وکړي، تر ډېره حده کوښښ وکړه چې عفوه ورته وکړې، همداسې کړنه د نبوي اخلاقو نمونه ده.
- کوښښ مه کوه چې د هر چا زړه ترلاسه کړې، بلکې د ښو خلکو زړونه په صحیح او روا طریقه ترلاسه کړه.
- کوښښ وکړه چې څوک داسې وفات نشي چې ستا څخه ناراضه وي، نو همدا نن ټول مسلمانان او ملګري له ځان څخه خوشحاله کړه، ځکه چې مرګ نه دی معلوم چې کله به

راځي، خو که يو ځل درڅخه لاړو بيا به د حساب په ورځ ورسره مخ کېږي.

- کوم څه چې الله جل جلاله راکړي د هغه څخه د آخرت لپاره کار اخيستل د ژوند اصلي مقصد دی.
- کوم خلک مو چې په خبرو کښېږ د څورولو هڅه کوي، پوه شئ، چې حسد درسره لري، په ظاهره که هر څومره د نږدېوالي تمثيل درته کوي.
- کوم خلک مو چې د خوښۍ هڅه کوي پوه شئ، چې مينه درسره لري.
- کوم ملګري مو چې هر وخت د څورولو سبب ګرځي، يو څه وخت يې له ځان څخه لرې کړئ، صرف په زړه کې يې وساتئ.
- لږ او مقصودي خبرې وکړئ، چې هرې خبرې ته مو خلک ارزښت ورکړي.
- لمړی عمر د ورستي عمر لپاره د افتخار او يا د شرم وړ جوړ شي: که په لمړي عمر کې په غيرت ژوند وشي، د وروستي عمر لپاره به د افتخار وړ وګرځي او که په لمړي عمر کې بې غيرته او کمزوری ژوند وشي، د وروستي عمر لپاره به د شرم وړ وګرځي.

- له ادب څخه خالي انسان هېڅکله داسې ملګري نشي پیدا کولای چې ادب ولري.
- له اسلـحې سره محبت نه کول د بې غیرتۍ نخښه ده؛ له قلـم سره محبت نه کول د جهالت نـخښه ده؛ مونږ باید له دواړو سره محبت وکړو، ځکه چې زمونږ په پرمختګ کښې دواړه اړین دي.
- له الله تعالی څخه یې خپله ځان ته وغواړه، تر څو الله تعالی نعمتونه درکړي، خو د بل چا د نعمتونو د زوال هیله مه کوه، تر څو الله تعالی نعمتونه درکړي.
- الله تعالی د ژوند په هر حالت کې له خپلو بندګانو څخه امتحان اخلي، نو په کار دا ده چې د ژوند په هر حالت کې الله تعالی ته رجوع وشي.
- له حقوق الله سره سره عاجزي او نېک اخلاق غوره کړه چې الله جل جلاله ته نیږدې او ښه سړی شې.
- له خپلو خبرو سره ډېر فکر کوئ! ځینې خبرې له خولې څخه د چاړې په شکل وزي او زړونه داسې زخمي کوي چې بیا یې رغول ډېر سخت وي.
- له خطرونو او ستونزو وېره مه کوه، بیا نو راتلونکی ستا دی.

- له خلکو سره نېک چلند کوئ، که یې دوی بدله درنکړي، الله تعالی د هېڅ نیک کار بدله نه پرېږدي، خامخا به یې درکړي.
- له دنیا څخه په داسې حال کې رخصت شه، چې مسلمانان درڅخه راضي وي، لرې نه ده چې الله تعالی به هم درڅخه راضي شي.
- له دنیا څخه په داسې حال کې ګډه وکړه چې هر څوک درپسې په اخلاص د دعاء لاسونه پورته کړي.
- له دواړه قسمه شیطانانو (جنّي او انسي) څخه د خلاصون لپاره لاره دا ده: چې د الله تعالی دین ته رجوع وشي او په الله تعالی پناه وغوښتل شي.
- له زیات زحمت او کوښښ څخه وروسته ترلاسه شوي شیان خوند او ارزښت دواړه ډېر لري.
- له ژوند څخه مه ستړي کېږئ، همدا د الله تعالی لویه پېرزوینه ده چې تاسې ته یې په اسلام کې ژوند درکړی، ښه په خوند خپل ژوند وکړئ او د الله تعالی له عبادت څخه خوند واخلئ، خپل آخرت دریاد کړئ چې په لنډ وخت کې به مو الله تعالی په ښکلو جنتونو او نعمتونو ونازوي.

- له سختيو څخه وروسته نعمت ترلاسه کول ډېر خوند کوي، نو د جنت د خوندورو نعمتونو باوجود به يې خوند ځکه ډېر وي چې له سختيو څخه وروسته ترلاسه کيږي.
- له غرور څخه ځانونه وساتئ! ځينې وخت ډېر لږ غرور د يو شخص د لويې ماتې او رسوائۍ سبب وګرځي.
- له قدم اخيستلو سره د نيت اصلاح کوه، ترڅو هر قدم دې د ثواب او نېکۍ ذريعه وګرځي.
- له کبر څخه ځانونه وساتئ، که چېرې تاسې کبرجن شئ، عاجز ملګري به مو له څنګ څخه لاړ شي.
- له مور او پلار سره نيکي کوه، په ماشومتوب کې يې چې کومه خواري درسره کړې، په رب قسم چې لوی احسان دی او دا احسان به يې پوره نه کړې.
- له نامه څخه مخکې پيشوند او له نامه څخه وروسته وروستاړی مهم او اړين نه دي، اصل کمال او عمل دی چې شخص په ښه شخصيت بدلوي، درونداوالی او ښايست ورکوي.
- له نورو څخه ډېر اوريدل او خپله لږ خبرې کول د هوښيارانو کار دی.

- له هر چا سره د هغه د پوهې په اندازه خبرې کوه.
- له هر چا سره نېکې اړیکې درلودل نبوي سنت دي؛ او داسې اړیکې ډېر کم خلک جوړولای شي.
- له هر کار څخه زمونږ هدف باید د الله تعالی رضا او ثواب وي، چاپلوسي او ریاکاري نه.
- له هغه خلکو څخه لرې اوسئ، چې په مجلس کښې یې د آخرت له فکر څخه غافله کېږئ.
- له هغه خلکو سره خپله ملګرتیا پرېږده چې له بدو کارونو څخه دې منعه نه کړي، ځکه چې دا خلک ستا سره د الله تعالی لپاره ملګرتیا نه کوي.
- له هغه خلکو سره ناسته ولاړه کوه چې ستا د آخرت جوړولو فکر ورسره وي.
- له هغه خلکو سره هېڅکله ملګرتیا مه پرېږدئ، چې په مجلس کښې یې ستا فکر د آخرت خواته اوړي.
- له هغه کړنو څخه ځان وساته چې د خلکو په زړونو کښې دې محبوبیت له منځه وړي.

- له هغو خلکو څخه ځانونه وساتئ چې د نورو خلکو په اړه غیبت درته کوي، ځکه چې د دې اعتماد نشته وربانديې نو ستا غیبت به نورو ته هم کوي.
- له هیچا او هېڅ شي څخه وېره مه کوه تر څو چې ملامت شوی نه وې، خو کله چې ملامت وې بیا له هر چا او هر څه څخه وبېرېږه.
- له یو چا څخه ګیله هلته ډېره کېږي چې ستا وربانديې اعتماد وي او هغه درسره دهوکه وکړي.
- مالداري دومره ارزښت نه لري، لکه دینداري؛ خو افسوس دا دی چې نن ورځ ډېر مسلمانان دینداري د مالدارۍ لپاره قرباني کوي.
- مجاهدینو ته الله جل جلاله د جهاد په واسطه عزت ورکړی دی، دا عزت يې د چا څخه په چاپلوسۍ نه دی ترلاسه کړی.
- مخکې له دې چې په اړه يې معلومات وکړئ، چاته سپک نظر مه کوئ، ډېرو خلکو جهاد کړی او ډېرو خلکو قربانۍ ورکړې دي.

- معلومه خبره ده چې د هر کار او خبرې تر شا یو هدف موجود وي؛ کوښښ وکړئ د خپلو کارونو او خبرو تر شا مثبت اهداف ولټوئ.
- مونږ باید اهل حق شو، ځکه چې اهل حق په هر حالت کښې کامیاب وي.
- مونږ باید په هغه مشکلاتو چې د حق په لاره کې ورسره مخ کېږو، صبر وکړو ځکه چې الله تعالی صبر کوؤنکو ته بې حسابه اجر ورکوي.
- مونږ باید د شیطان له لارې څخه ځان وساتو ځکه چې د شیطان لاره جهنم ته رسېدلې ده.
- مونږ باید د نفسي خواهشاتو څخه ځانونه وساتو، ځکه چې څومره نفسي خواهشات زیاتېږي، په هغه اندازه د آخرت یاد او ذِکر کمېږي او د دنیا محبت زیاتېږي.
- مونږ په ځمکه کې یوازې د الله تعالی د بندګی لپاره پیدا شوي یو؛ هېڅ کله به خپل سر له الله تعالی څخه بغیر بل چا ته ښکته نه کړو.

- مونږ که د نعمتونو قدر داسې پېژندلای لکه څومره قدر یې چې له زوال څخه وروسته راته څرګندیږي، نو هېڅ کله به مو د الله تعالی د نعمتونو بې قدري او ناشکري نه وه کړې.
- ناپوهي په هر حالت کې بده ده زیاتره وخت بد کارونه او کړنې له ناپوهۍ څخه سرچینه اخلي.
- ناشکري دا ده چې الله تعالی نعمتونه راکړي وي، خو مونږ یې په ناروا شکل استعمال کړو.
- نظام له هغه کسانو څخه زیاته ګیله کوي، چې پخوا یې قرباني ورکړې وي او اوس بیا خیانت کوي.
- نن دې که ژوند په سختۍ کښې دی، پروا یې مه کوه، ستا مسلماني به دې داسې ژوند ته ورسوي چې هرې خواته به د خوشحالۍ محفلونه درته تیار وي.
- نن که الله تعالی په ډېرو نعتونو نازولی یې، د سبا ورځې د زوال فکر یې هم وکړه چې ستا د اعمالو په اساس به ورڅخه محروم کیږې.
- نن ورځ چې ته کوم قدرت، ځواني او شتمني لرې، د الله تعالی په لاره کې استفاده ورڅخه وکړه؛ دا هر نعمت په

هغه شکل استعمال کړه ځنګه یې چې حق وي، ترڅو الله تعالی پرې راضي شي.

- نېکي کوه، خو په دنیا کښې یې د بدلې هیله مه کوه، همدې ته په احسان کې اخلاص وایي.
- هر څوک له خپل فکر څخه خبرې کوي او صحیح یې ګڼي، نو د هر چا نظر ته په خپلو حدودو کې احترام کوه، ته هم له عقل او پوهې څخه کامل نه یې چې پوره نظر وړاندې کړې.
- هغه اداره پرمختګ کولای شي چې اصول یې په ټولو وګړو یو ډول تطبیق شي.
- هغه څه چې وروسته یې رغول امکان نه لري، مخکې له ورانولو یې په اړه پوره فکر وکړئ.
- هغه څه چې وروسته یې ورانول امکان نه لري، مخکې له جوړولو یې په اړه پوره فکر وکړئ.
- هغه څوک به هیڅکله د ژوند څخه خوند تر لاسه نه کړي، چې د مظلومانو آزار وهلي وي.
- هغه څوک چې ستا سره په آسانۍ او سختۍ دواړو کې ولاړ وي، هېڅکله یې له لاسه مه ورکوه، ځکه چې ستا د ژوند همدا رېښتینی ملګری دی، چې زیات ارزښت لري.

- هغه خبره چې ظالم ته نصيحت او مظلوم ته ډاډګيرنه ده، نو ورته ووايه چې د حساب ورځ خامخا راتلونکې ده.
- هغه خلک چې الله تعالی يې يو منصب او درجې ته رسوي او په هغه منصب کې وروسته د ښه خدمت اراده ورته لري، نو لمړے يې له سختيو او مشکلاتو سره مخ کوي، ترڅو وروسته خپله دنده په پوره صبر، استقامت او مېړانه سره ترسره کړي.
- هغه خلک چې د خلکو تر منځ د شر خبرې کوي، هېڅکله به په ټولنه کې د نېک نوم څخه برخمن نشي.
- هغه خلک کامياب دي، چې په خپل ژوند کښې د کارونو لپاره ۲۴ ساعته پلان او تقسيم اوقات ولري.
- هغه دنده چې د نورو خلکو حقوق وربانديې مبني وي لکه:(د استاذ په حيث دنده) بايد هغه څوک يې ترسره کړي، چې د دندې ټول حقوق وربانديې پوره وي؛ ترڅو د نورو خلکو حق طلبي ونه شي.
- هغه ژوند چې د الله تعالی په عبادت کې تېر شي، د انسان لپاره د يو بل ژوند نعمتونه برابروي، چې هغه ژوند بيا پای نه لري.

- هغه طالب العلم به هېڅکله کامیاب نشي چې د استاذ، قلم، کتاب او کتابچې قدر نه وي ورسره.
- هغه کارونه او خدمتونه د ځان لپاره افتخار وګڼه چې تا د خپل ځان لپاره نه بلکې د اسلام او مسلمانانو لپاره کړي وي.
- هغه ملګرتیا د الله تعالی لپاره وي، چې دواړو خواوو ته د اصلاح هڅې په کې موجودې وي.
- هغه وخت حق ویلای شې چې له خلکو څخه هېڅ وېره ونه لرې او له الله تعالی څخه په هره لحظه کې په وېره کې وې.
- هغه وخت لرې نه دی چې مونږ به د خپل رب جل جلاله په حضور کې ولاړ وو او پوښتنه به راڅخه کوي چې کوم اعمال دې راوړي چې نن یې په بدل کې د جنت امید لرې؟ نو مونږ که فکر وکړو کوم اعمال به ورته وړاندې کړو چې الله تعالی یې په بدل کې جنت رانصیب کړي؟ مونږ باید دا فکر له نن څخه وکړو او داسې اعمال ترسره کړو چې بیا یې الله تعالی ته وړاندې کړو او هغه مو ورباندې وبښي او جنت ته مو داخل کړي.

- هغه ورځ ستاسې لپاره بهترینه ورځ ده، چې د الله تعالی عبادت مو پکښې کړی وي او یو څه پوهه مو ترلاسه کړې وي.
- هل یستوي؟ هغه څوک چې د الله تعالی عبادت او د دین خدمت کوي او هغه څوک چې په عبث شیانو او ګناهونو مصروف وي؛ آیا برابر دي؟
- هوښیار شخص باید کوښښ وکړي چې د کنایې او اشارې له لارې ځان پوه کړي او متکلم پوره تفصیل ته اړه نه باسي، ځکه چې په پوره تفصیل کې زیاتره وخت داسې الفاظ راوړل کېږي چې د مخاطب د خپګان سبب ګرځي.
- هېڅ کړنه بې هدفه مه کوئ او هره کړنه د مثبتو اهدافو په لور ترسره کړئ.
- هېڅ کله خپلې هیلې په دنیا پورې مه تړی؛ ځکه چې دنیا پاتې کېږي او تاسې به مرګی آخرت ته یوازې یوسي.
- هېڅ کله خپلې هیلې په هغه چا پورې مه تړئ، څوک چې ستاسو د احساساتو قدردانی نه لري.
- هېڅ کله د دې هڅه مه کوئ چې خلک مو قدر وکړي، ځکه چې د قدر غوښتل د تکبر ښکارندويي کوي.

- هېڅ کله د نورو خلکو په بې عزتۍ کې د خپل ځان عزت مه لټوئ.
- هېڅ کله د نورو خلکو د نعمتونو د زوال هیله مه کوه، ځکه چې په دې کې له ګناه پرته هېڅ فایده نشته، ته خپله هم د الله تعالی دربار ته لاس لپه کړه او همداسې نعمتونه ورڅخه وغواړه.
- هېڅ کله دا فکر مه کوه چې زه یو کامل شخص یم، ځومره دې چې د ځان په اړه فکر نیمګړی وو، په هغه اندازه هوښیار یې.
- هېڅ کله کوښښ مه کوه چې د خپلو اعمالو او خدمتونو ستاینه خپله وکړې، که چېرې ستا اعمال او خدمتونه رښتیا هم د ستاینې وړ وي، نو خامخا به یې ستاینه وشي.
- هېڅ کله له هغه ملګرو سره دهوکه او چل مه کوه، کومو چې درباندې اعتماد کړی او ستا څخه په ژوند کې ډېرې هیلې لري.
- هېڅچاته د کمزوري او مظلوم فکر مه کوئ؛ ځکه که یو څوک هر څومره کمزوری شي، بیا هم یو قوي رب جل جلاله ورسره شته.

- هېڅکله له هغه چا سره خبرې د سختوالي پروا ته مه رسوئ، چې محبت ورسره لرئ؛ ځکه چې سختې خبرې د اشخاصو ترمنځ د محبت جررې باسي.
- وخت او حالات به دې غټ کړي، خو خپل نفس مه ورسره غټوه؛ ډېر قدرت، پوهه، مال او عزت به ترلاسه کړې، خو که دې نفس ورسره غټ کړو، د الله تعالی په وړاندې دې هېڅ حیثیت نشته.
- یو شخص ته د داسې صفاتو نسبت کول چې په هغه شخص کښې نه وي دروغ او خیانت بلل کېږي.
- یوازنی تاریخ دی چې د نظام د پرمختګ، جوړېدو، خرابېدو او له منځه تلو لاملونه په تجربه شوي ډول بیانوي.
- یوازې په حق ویلو انسان نه خلاصیږي، بلکې خپل ځان په حق برابرول هم ضروري دي.
- یوازې د خپلو ملګرو او دوستانو زړونه مه تر لاسه کوئ، د ټول ملت او مسلمانانو زړونه ترلاسه کړئ، ترڅو ټول ملت محبت درسره وکړي.

## فکري برخه

- په استعمار او اشغال کې فکري څواک اصل دی.
- په اسلامي عقیده پورې تړلی فکر به هېڅکله د غلامۍ لاره اختیار نه کړي.
- په فکري جګړه کې ډېره هڅه دا کېږي چې د قومي، ژبني او سمتي تعصب له لارې مسلمانان په خپل منځ کې په جګړه بوخت شي او دښمن ورڅخه په آرامه پاتې شي؛ خو مسلمانانو دې د سلمان فارسي، بلال حبشي او صهیب رومي رضي الله عنهم منزلت وګوري په مدینه مونوره کې.
- تر څو پورې چې په اسلامي ټولنه کې د کفر سره د دښمنۍ درس ورکول کېږي، هېڅ امکان نه لري چې په داسې ټولنه کې دې فکري جګړه خپل اثرات وکړي.
- ترڅو پورې چې زمونږ په ټولنه کې کفري فکرونه د خپرېدو په حال کې وي، یو قوي اتحاد او یووالی ناشونی دی، چې مونږ یې د کفارو په مقابل کې تیار کړو او په اساس یې کفارو ته ماتې ورکړو.
- جهاد تل د یو اسلامي فکر په اساس کېږي، کفار د فکري جګړې په سلسله کې کوښښ کوي چې مسلمان نه بلکې د

هغه اسلامي فکر له منځه یوسي؛ چې وروسته بیا داسې مسلمان د کفارو لپاره هېڅ خطر نشي جوړېدلای، بلکې له دوی سره د جهاد پر ځای د همکارۍ لاره غوره کوي.

- د اسلامي امت د ځوانانو د فکري روزنې لپاره دومره هم کفایت کوي، تر څو په دې پوه شي چې د اسلامي امت پرمختګ له جهاد څخه پرته ممکن نه دی.
- د افکارو اصلاح ډېره مهمه ده، مخکې تر دې چې مونږ ځوانان جهاد ته دعوت کړو، یو ځل یې باید افکار په اسلامي لارښوونو اصلاح کړو، له کفارو سره د دښمنۍ او له مسلمانانو سره د اخوّت او همکارۍ نظریه باید ورکړو؛ هغه ځوانان چې افکار یې د اسلامي لارښوونو په اساس جوړ شوي وي، بیا خپله د جهاد، قتال او قربانۍ میدان ته راوځي؛ بیا به هېڅکله د کفارو او نورو د اسلام دښمنانو همکارۍ او ملګرتیا ته زړه ښه نه کړي؛ همېشه به نفرت ورڅخه کوي او د زوال هیله به یې لري.
- د فکرونو په تسخیر سره د اشخاصو افعال، اخلاق، دین، عقیده، نظریه او فرهنګ بدلېږي، چې وروسته اشخاص په یو داسې چوکاټ کې ځان برابروي، چې د اسلام او اسلامي ټولنې سره به هېڅ اړیکه نه لري.

- د فکري جګړې په سلسله کې دښمن هر وخت د دښمن په جامه کې نه راځي، ځینې وخت د دوست په جامه کې هم راځي چې د دوستۍ له تمثیل څخه صرف د مقابل لوري د دهوکه کولو، د کمزورو نقطو معلومولو او رازونو څرګندولو لپاره استفاده کوي.
- د فکري جګړې خطر ځکه زیات دی چې دا جګړه دښمن ته د دوست جامه ور په تن کوي، همدا د دوستۍ په جامه پوښلی دښمن بیا د مسلمانانو په لور خپل زهرجن غشي ګزاروي او په داسې طریقه مسلمانان هدف ګرځوي چې ویشتونکی یې نه وي معلوم.
- د قلم په مټ غلطې مفکورې نسکورې کړئ، د ټوپک په زور مغرورې ککرۍ.
- د کفارو زیات کوښښ دا دی چې د مسلمانانو فکري ځواک په هغه ځای او شکل استعمال کړي چې د مسلمانانو لپاره په زیان او کفارو لپاره په ګټه تمام شي.
- دا بهتره ګڼم چې ټول عمر مې د کفارو په زندانونو کې تېر شي خو چې خپلواک فکر ولرم، تر دې چې د دنیا په محلونو کې د دنیا له خواهشاتو څخه خوند اخلم له غلام فکر سره.

- زمونږ په ټولنه فکري جګړه د یو سیلاب په شکل را روانه ده، چې د خلکو عقیده، دین، فرهنګ، وحدت او ورورولي یې هدف ګرځولي، خو په مقابل کې یې څو د ګوتو په شمېر کسان مقابله کوي، نور ټؤل ملت د غفلت په خوب ویده دی او نه څوک خاص توجو ورته کوي.
- زمونږ دنده د ځوانانو افکار په اسلامي لارښونو جوړول دي.
- زمونږ کامیابي او پرمختګ په دې کې دي چې د الله تعالی له دین څخه پوره پوره پیروي وکړو او د ژوند په هره برخه کې خپل دین ته رجوع وکړو؛ د نظام او حکومت جوړونه د دې لپاره کېږي چې اسلامي احکام په پوره اندازه تطبیق شي، نو په همدې اساس زمونږ لپاره په کار ده چې د دین په تطبیق کې پوره هڅه وکړو.
- غرب د فکري جګړې په سلسله کې زمونږ د ځوانانو اذهان دومره تسخیر کړي، دا خو پر ځای پرېږده چې د جهاد، قتال او قربانۍ لپاره یې را دعوت کړو، بلګې زمونږ علماء، لیکوالان او مبارزین په دې بوخت دي، ترڅو دا ورته ثابت کړي چې غربي فرهنګ، رسم او رواج، بې حیایی او فحاشی ته انسان دعوتوي او غربي فرهنګ زمونږ له دین او ټولنې سره په ټکر کې دی، زمونږ مبارزین ملګري په دې بوخت دي

چې خپل ځوانان مو له غربي هلاکوونکي تقلید څخه راوباسي.

- فکر د افعالو، اخلاقو، دین، عقیدې، نظریاتو او فرهنګ سرچینه ده، ترڅو پورې چې فکرونه خپلواک وي نو دا هر څه به خوندي او پر ځای وي، خو که فکر منحرف شو، بیا دا یو هم په خپل حال نه پاتې کیږي.
- فکر د کړنو سرچینه ده، کله چې فکر اصلاح وو کړنې به خامخا اصلاح وي؛ که فکرونه منحرف شي، کړنې به هېڅکله اصلاح نشي؛ نو په همدې اساس اوس کفار ډېر کوښښ کوي چې د مسلمانانو فکرونه منحرف کړي.
- فکري انحراف د شخص برخلیک منحرف کوي.
- فکري انحراف زیات وخت د اشغال او استعمار لپاره پیلیزه وي.
- فکري جګړې ته باید په هر وخت کې د یو منظم پلان له مخې کار وشي، ځکه چې دا جګړه د یو منظم پلان له مخې د ټولنې په خلاف مسلسله روانه ده او هدف یې دا دی چې د اسلامي ټولنې حالت بدل کړي او یوه داسې ټولنه ورڅخه جوړوي چې له اسلام سره هېڅ تړاؤ ونه لري، د کومو خلکو فکرونه چې له خپل دین، عقیدې، نظام، کلتور او فرهنګ څخه

منحرف شي، داسې خلک بيا خپله د دښمن د اهدافو لپاره کار کوي او خپله ټولنه د دښمن په لومو کې ورکوي.

- کفار په بېلابېلو لارو سره زمونږ په ټولنه کې په پراخه توګه کوښښ کوي، تر څو دلته خپل نظريات او فکرونه د ځوانانو ذهنونو ته ترويج کړي او په دې ډول زمونږ ځوانان غواړي د خپل اسلام، عقيدې، فرهنګ، تاريخ او مسير څخه لرې ناخبره او بې پروا کړي، ترڅو دا ځوانان د کفارو په مقابل کې خپله د دښمنۍ او جهاد روحيه له لاسه ورکړي او د کفارو د لاس آله او وسيله وګرځي.
- کله چې فکرونه اشغال شي، د ملکونو استعمار او اشغال هيڅ کار نه غواړي.
- کله چې مسلمانان له جهاد څخه مخ واړوي نو په همدې وخت کې د کفارو د فکري جګړې ثاتيرات هم زيات شي، تر دې چې په تدريجي ډول يوه اسلامي ټولنه داسې اندازې ته ورسوي چې صرف يې نوم اسلامي وي، نور د اسلام هيڅ هم نه وي پکښې پاتې؛ کفارو فکري جګړه د همدې لپاره روانه کړې تر څو د مسلمانانو څخه د عملي جهاد قدرت ختم شي، کله چې په مسلمانانو کې د عملي جهاد قدرت ختم

شي، بیا نو کفار له داسې مسلمانانو څخه هېڅ وېره نه لري او کولای شي هر څهٔ ورباندې ومني.

- که چېرې د خلکو فکرونه د کفارو سره په دښمنۍ او مسلمانانو سره په ورورولۍ روزل شوي وي، هېڅ کله به دښمن ته دا موقع په لاس ورنشي چې زمونږ په خلاف فکري جګړه د کامیابۍ پړاو ته ورسوي.
- که چېرې ستا فکر د کفارو سره د مخالفت نظریات نشو وړاندې کولای، نو پوه شه چې په یو ډول له فکري جګړې څخه متاثر شوی یې.
- له فکري اشغال څخه د خلاصون یوازینۍ لاره، له کفارو سره تعلقات ختمول او په ټولنه کښې د دین تعلیم عامول دي.
- مستعمر فکرونه خپله مستقله خپلواکي او فلسفه نه لري، بلکې هر وخت د استعمار سره بدلېږي رابدلېږي.
- مونږ هغه وخت کولای شو چې په خپله ټولنه کې د کفارو سره د جهاد او دښمنۍ لپاره د ځوانانو جذبات او روحیات څپانده او راویښ کړو، چې لمړی له خپلې ټولنې څخه ټول کفري فکرونه او نظریات په کامله توګه محوه کړو او د سپېڅلې اسلامي عقیدې په اساس د غیرت او مېړانې تعلیم پیل کړو.

- هېڅ کله باید په ټولنه کې داسې کارونه اجازه ونلري، چې د افکارو او نظریاتو په منحرف کولو کې مؤثر تمامېږي.

**ومن الله توفیق**

**حقمل ورور مو د دعا په هیله دی!**

## د لیکوال نور کتابونه

---

- جهادي فکر او روزنه (ناچاپ)
- احساس مې (شعري ټولګه) (ناچاپ)
- مجاهد پولیس او ټولنه (ناچاپ)
- لمړنی روغتیایي مرستې (ناچاپ)
- جهاد او د امت ځوانان (ناچاپ)